**F – 001 د پکتیا ولایت د مخابراتو ریاست اړوند د (معلوماتي ټکنالوجي رئیس) د لومړی ربعې کاري ګزارش**

له ۱۳۹۹/۱۰/۱ تر ۱۳۹۹/۱۲/۳۰ پورې

**ګزارش ورکوونکي: (عبدالله توتاخیل) بست (۲) دنده : ( پکتیا ولایت ډیجیټلی همغږی کوونکی ریاست رئیس )**

**د ګزارش اخیستونکي نوم : ساینس معلوماتی تکنالوجۍ او مخابراتو وزارت**

د اداري ستراتیژي(د قانون په چوکاټ کې د CIT سکتور پراختیا لپاره موثریت ،شفافیت او پرمختګ زیاتوالی ته زمینه برابرول د تر څو افغانستان په یوه نوي معلوماتي ټولنې لور ته وګرځوي.)

د دولت اقتصادي موخو په رڼا کې د سرې سر عایداتو لوړول ،وده او د ټکنالوجي مارکیټ پراختیا او دملي اقتصاد په لوړولو کې مثبتې پایلې ترلاسه کول

**کاري موخې:**

۱:- مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی پوری اړوند تخنیکی چارو کنترول او نظارت تر څنګ د غوره خدماتو وړاندی کولو په موخه ولایت په سطحه د ډیجیټلی خدماتو پراختیا

۲:-د ولایت په سطحه د اترا او افغان تلیکام ادارو سره په همغږی د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی په اړه د ولس نیوکو ته حل لاره پیدا کول او پدی برخه کې د هغوی ملاتړ کول

۳:-د هیواد اقتصادی پیاوړتیا په موخه د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی سکتور نه د مالی وزارت لخوا ټاکل شوی هدف په اساس عواید راټولو او اړوند حساب ته شاملول

۴:- د کلیو او بانډو په سطحه د معلوماتی تکنالوجی خدماتو او ډیجیټلی اقتصاد د پوښښ ساحی پراختیا

۵:- د مخابراتی تکنالوجی خدماتو ته په موثره او دوامداره توګه د لاسرسی په موخه د کلیو او بانډو د نوری فایبر سره د وصل نه ډاډ ترلاسه کول او د نوری فایبر حفظ او مراقبت کول

۶:- د معلوماتی تکنالوجی خدماتو وړاندی کوونکو شرکتونو نه نظارت او کنترول ترسره کول او اړوند مرجع ته راپور ورکول

۷:- د ولایت په سطحه د رهنمودونو ،طرزالعملونو ، ډیجیټلی او معلوماتي تکنالوجی پالیسی ګانو طرحه او وده ورکول د مرکز اړوند بخشونو او خصوصيي سکتور په ملتیا

۸:- د وزارت ستراتیژیکو موخو ته د رسیدو لپاره د عمومی پلان سره سم د اړوند برخو میاشتنی ،ربعوار او کلنی پلان ترتیب او جوړول

۹:- د ریاست کلنی پلان په اساس د بودجوی اړتیاوو پیژندل او وړاندیز کول

۱۰ :- د لاس لاندی کارمندانو ته د سیمینارونو او ورکشاپونو جوړولو له لاری د مسلکی مهارتونو انتقالول

**د ترسره شوو دندو فعالیتونه:**

**لومړی برخه:-** مخابراتو او معلوماتي تکنالوجي پورې اړوند تخنيکي چارو کنترول او نظارت تر څنګ د غوره خدماتو وړاندی کولو په موخه ولايت په سطحه د ډيجيټلي خدماتو پراختيا.

- د ټولو اداري چارو څخه نظارت په خپل وخت تر سره شوي چې په پايله کې د دې ولايت په سطحه مخابراتي خدمات ۲۴ ساعته دي .
- د پکتيا څلور ولسوالي ( وزی څدراڼ ، شواک ، ګزده څيرې او زرمت ولسوالي نوري فايبر سره وصل چارو نه نظارت ترسره شوی .
- د پکتيا شپږ ليسې (عبدالحی ، نسوان شهری ، شاه قمبر ، تيری ليسه ، او انجونو ديني مدرسه) نوری فايبر سره نه نظارت ترسره شوی .
- د کمپيوټر شپږ مياشتنی زده کړو سنټر نه په دوامداره توګه نظارت ترسره شوی او د تدريس په برخه کې د کيفيت او کميت له اړخه ښه والی راغلی.

**دويمه برخه :-** د ولايت په سطحه د اترا او افغان تليکام ادارو سره په همغږی د مخابراتو او معلوماتي تکنالوجي په اړه د ولس نيوکو ته حل لاره پيدا کول او پدی برخه کې د هغوی ملاتړ کول .

- د مخابراتي خدماتو وړاندی کوونکو شرکتونو استازو سره دوامداره ناستي او تليفوني اړيکي نيول شوی .
- د کارمندانو ارزيابي کلنی پلان د رياست په سطحه جوړ شوی تر څو د کارمندانو ارزيابي په وخت ترسره شي
- مخابراتو برخه کې د خلکو شکايتونه ولايتي دفترونو سره په وخت شريک شوي.

**دريمه برخه :-** د هيواد اقتصادی پياوړتيا په موخه د مخابراتو او معلوماتي تکنالوجي سکتور نه د مالي وزارت لخوا ټاکل شوی هدف په اساس عوايد راټولو او اړوند حساب ته شاملول

- د مخابراتي او پستي سکتور نه عوايد د اصولو په اساس راټول شوی او د دولت خزاني ته ليږل شوی.
- د کمپيوټر زده کړی شپږ مياشتني دوری زده کوونکو نه د وزارت طرزالعمل مطابق عوايد راټول او د دولت ملی حساب ته شامل شوی.

**څلورمه برخه :-** د کليو او بانډو په سطحه د معلوماتي تکنالوجي خدماتو او ډيجيټلي اقتصاد د پوښښ ساحي پراختيا

- د پکتيا لری پرتو ولسواليو ته د خدماتي خدمات غزول شوی او د خدماتو ساحه پراخه شوی

**پنځمه برخه:-** د مخابراتي تکنالوجي خدماتو ته په موثره او دوامداره توګه د لاسرسی په موخه د کليو او بانډو د نوری فايبر سره د وصل نه ډاډ ترلاسه کول او د هغوی فايبر حفظ او مراقبت کول.

- د پکتيا څلور ولسوالي ( وزی څدراڼ ، شواک ، ګزده څيرې او زرمت ولسوالي نوری فايبر سره وصل شوی .
- د پکتيا شپږ ليسی (عبدالحی ، نسوان شهری ، شاه قمبر ، تيری ليسه ، او انجونو ديني مدرسه) نوری فايبر سره وصل نه ډاډ ترلاسه شوی .

**شپږمه برخه:-** د معلوماتي تکنالوجي خدماتو وړاندی کوونکو شرکتونو نه نظارت او کنترول تير سره کول او اړوند مرجع ته راپور ورکول.

- ولس ته د ښه او موثره مخابراتي خدماتو وړاندې کولو په موخه په مياشت کې يو ځل د مخابراتي کمپنيو استازو سره ليدنه ترسره شوی.
- د مرکز په شمول ټولو ولسواليو کې د شته خدماتو څخه په وخت نظارت او کنترول ترسره شوی.
- پکتيا کې د مخابراتي خدماتو شته دفترونه په ربع کې يو ځل نظارت ترسره شوی تر څو ولس ته معياري خدمات وړاندې کړي

**اوومه برخه:-** د وزارت ستراتيژيکو موخو ته د رسيدو لپاره د عمومی پلان سره سم د اړوند برخو مياشتنی ،ربعوار او کلنی پلان ترتيب او جوړول

- وزارت مقام ته د عوايدو مياشتې راپور بيدون د کومې ستونزې شريک شوی.
- وزارت مقام ته د رياست ټولو کړنو مياشتنی ، دري مياشتنی او کلنی راپور شريک شوی.
- په عاجلو حالاتو کې وزارت مقام ته د دوی د غوښتنې په اساس ورځنی او اوونيز راپور ورکړل شوی.

**نيمګړتياوې ،ستونزې او خنډونه:**

- ❖ د مخابراتي شرکتونو د زون په سطحه د دفتر نشتون د دې لامل شوی چې د دې ولايت مخابراتي شبکو ستونزو حل په برخه کې خنډ او خنډ رامنځته کړی .
- ❖ د پکتيا په زياترو ولسوالي کې د مخابراتي شرکتونو لخوا خدمات په ښه شکل ندي وړاندې شوي او همدارنګه د ځينو مخابراتي شرکتونو 3G خدمات په نسته حساب دي
- ❖ د ام تی ان مخابراتی شبکه د پکتيا په ۷ ولسواليو ( زرمت ، روحانی بابا ،شواک ،ګرده څيرې ، وزی څدراڼ ،لجی منګل ،احمد خيل او خانی خليو ) کې مخابراتي معياری خدمات نه لری .

[stamp] ۱۳۸۶

**د چارو د بنه والي په موخه وړاندیزونه او حل لارې:**

- ❖ پکتیا ولایت د جنوب شرق زون دی چې پدې ولایت کې د زیات شمیر ادارو دفترونه شتون لري خو تر دی دمه په پکتیا کې د مخابراتي کمپنیو د زون نشتون ترڅنگ پدی ولایت کې مشتریانو ته د خدماتو وړاندی کولو او ستونزو حل کولو لپاره مجهز دفتر شتون نه لري او همدارنگه د مخابراتي کمپنیو با مسئول شخص هم نشته تر څو شته ستونزې ژر تر ژر حل کړي.
- ❖ د پکتیا هغه ولسوالی چې مخابراتي خدمات ندي فعاله که چیر د TDF او یا افغان تلیکام لخوا پکی پانگه اچونه وشي او د خلکو ستونزې حل شي د یوې خوا به د خلکو رضایت زیات حاصل شي او له بلی خوا د خدماتو پوشش ساحه به پراخه شوي وي.

**وړاندیزونه (پیشنیهادات):-**

- ➢ پکتیا ولایت د جنوب شرق زون دی خو پدې ولایت کې د سلام تیلیکام نه بغیر د یو کمپنی هم د زون په سطحه دفتر نشته که د زون په سطحه د مخابراتي کمپنی دفترونه فعاله شي د پکتیا ولس ستونزې به پدې برخه کې زیاتی حل شي .
- ➢ پکتیا مخابراتو کارمندانو ته که په مرکز کابل او د هیواد څخه بهر د تکنالوجي او پست په برخه کې ورکشاپونه دایر شي د یاد ریاست زیاتې ستونزې به حل شي .
- ➢ د پکتیا په لسوالیو کې د تشکیل نشتون د دې لامل شوی چې د مخابراتی شبکو ستونزو نه په وخت خبر نشو ترلاسه کولی .

**ترلاسه شوې پایلې اولاسته راوړنې:-**

- ➢ د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی ریاست ټول بستونه ډک شوی او هیڅ خالی بست په ریاست کې نشته
- ➢ د ریاست کلنی بودجی مصرف نه ډاډ ترلاسه شوی او تدارکاتی پلان ورته ترتیب شوی .

**ترلاسه شوې تجربې:**

۱:- د اداري کارکوونکو تر منځ همغږي رامنځته کول .

۲:- د اسنادونو د ثبت سره بلدتیا.

۳:- د معلوماتي ټیکنالوژي د سیستمونو سره بلدتیا پیداکول.

۴:- د ټیکنالوجي په واسطه د ورځنیو چارو سرته رسول.

کاري موخو پورې اړوند سرته رسیدلې هیلې:

۱:- د کارمندانو شهرتونه په مکمل ډول ثبت شول .

۴:- کمپیوټري فایلنگ سیستم رامنځته شو.

۵:- د کارمندانو معاشات ،سفریه ، خریداري اسنادو محاسبه کمپیوټرایز شوه.

د پورتنی شرحې له مخې د پکتیا ډیجیټلی همغږی کوونکی ریاست رئیس کاري گزارش له ۱۴۰۰مالی کال لومړی ربعی تر تیب او ستاسو محترم مقام ته وړاندې شو .

په درنښت

د گزارش ترتیب کوونکی :

عبدالله (توتاخیل)

پکتیا ډیجیټلی همغږی کوونکی رئیس

لاسلیک: